دوکتور صلاح الدین سعیدی

۲۰۲۱/۱۰/۲۲

# روان حالات

د شهیدانو جنازه روانه
مخ ته مي کونده پښتنه روانه

په مرکنډه او اغزنه لاره
زمونږ بې سره قافله روانه

د پنجابي ناسور غمیزه دلته
هره لحظه هره شیبه روانه

ای د افغان ولسه تاته وایم
ستاسو په کور څه تماشه روانه

جګړه د چا ده، څه لپاره کیږي ؟
چې د جهاد په بهانه روانه

پرخې د ظلم را اوریږي پر مونږ
دا په کورو مو زلزله روانه

د لمر ګزمه ده چې ګرځیږي په مونږ
سیوري ته ناسته میلمنه روانه

د سعیدي تر غریو نیولي آواز
د پرګنو حقه ناره روانه

شیرینه روره غبرګ زما آواز کړه
نو بیا شوه جوړه ولوله روانه



برای مطالب دیگر دوکتور صلاح الدین سعیدی روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com